# د فضل الرحيم ساقي
# د قامي او وطني شاعرۍ تنقيدي مطالعه
# A Critical Study of Fazli Rahim's Saqi Patriotic Poetry

Dr. Syed Zafar Ullah Bakhshali [1]

ABSTRACT:

Fazli Rahim Saqi (1904-1994) was a literary persona of patriotism, freedom fighter, resistance icon, and revolutionary activist. He produced awakening prose and poetry against the colonial Raj in the early decades of the 20th century in the Indian British North West Frontier Province. He had command over the sentiment-provoking process for the freedom movement through his literate contributions. He used the platform of the Khudai Khidmatgar movement and delivered his poems in the processions conducted by them. No doubt he will remain part and parcel of the resistance, freedom movement, and history of Pakhtunkhwa.

**Keywords:** Fazli Rahim's Saqi, Patriotic Poetry, freedom fighter, resistance icon.

د قامي او وطنيي شاعرۍ ربښې د هرې ژبې په لرغونو اثارو کښې موندلے شي. دا روايت د پښتو ژبې په بنيادونو کښې هم موندل کېږي چې د امير کروړ ياد نظم "لۀ ما اتل نشته"(1) يې يوه بېلګه ده. دا روايت چې خدائي خدمتګار تحريک ته راورسېدلو نو د نوو تهذيبي اقدارو رنګ يې واخستو. نړۍ کښې د نورو قامونو د ازادۍ د غورځنګونو سره د وابسته شاعرانو اديبانو ليکونه چې کله مونږ د خدائي خدمتګار غورځنګ شاعرانو اديبانو ليکونو سره پرتله کوو نو څرګند برېښي چې دلته هر څو کۀ د مزاحمت متشدده رنګ نشته او مزاحمت کوونکے استعماري قوت ته د جنګ په بدل کښې د جنګ خبره نۀ کوي بلکې ورته وايي چې:

"سر په تلي کښې د سيالۍ مېدان له ځمه"(1).

---

[1] Assistant Professor Department of Pashto Abdul Wali Khan University Mardan

zafarbakhshali@awkum.edu.pk

خو دا مزاحمت زیات زورور او زیات مؤثر دے. دې مزاحمت د نړۍ یو داسې استعماري او استحصالي قوت په ګونډو ټیټ کړو چې باچاهۍ کښې یې نمر نهٔ ډوبېدو. دوي سره چې کومه نوې وسله او وسیله وه، په هغې بې شک ناز کولے شو ولې د عدم تشدد په لار د قامي ازادۍ غوښتنې د استعمار نه جواز اخستے ؤ او د پېرنګي واکمن ساه په سکیندو شوې وه.

دا خبره خو اوس د نمر غوندې روښانه شوې ده چې د باچا خان ملګرو لکه د باچا خان عدم تشدد د یوې کمزورۍ په توګه نهٔ بلکې د یوې عقیدې په حېث خپل کړے ؤ، نو ځکه د هغوي لیکونو کښې هم دغه معنوي اړخونه ځلنده دي.

د خدائي خدمتګار غورځنګ سره وابسته شاعرانو ادیبانو چې کله هم په قامي او وطني شاعرۍ قلم پورته کړے نو هغوي د "قام" او "وطن" په پېژندګلو او تعارف کښې د څهٔ ډول ابهام او تذبذب ښکار نهٔ دي پاتې شوي. هغوي چې څهٔ لیکل، په هغې موقف او دریځ پوهه وو، ځکه خو د دوي د لیکونو نه ابلاغ په مکمله توګه کېږي او لوستونکے یا اورېدونکے هغه معنې ته رسي، کومه معنا چې خپلو لفظونو ته شاعر ادیب ورکول غوښتې وي.

فضل الرحیم ساقي چې "ډک جام" کښې کوم وړومبے نظم "دعا" لیکلې، په هغې پسې یې "وطن" نظم لیکلے دے. دا نظم د "وطنیت" یو ښشپړ انځور دے او دې کښې د وطن د دعوې او وعدې ټول رنګونه څرګند دي. "وطن" کښې ساقي د خپل وطن د ساتنې ژمنه کوي او د دې ژمنې سبب خپل هغه اتلان ګڼي چې یادونه یې د خدائي خدمتګار مکتب یوه برخه ده. د نظم پېل داسې کوي:

"میرویس بابا په تور لحد کښې خرڅولے نهٔ شم
ځواب شېر شاه او احمد شاه له ورکولے نهٔ شم
د خوشحال خان پګړۍ په خاورو کښې لړلے نهٔ شم
خواري د خان فخر افغان په اور سېزلے نهٔ شم
د پښتنو زمکه بل چاته پرېښودلے نهٔ شم"(2)

د میروېس بابا، شېر شاه، احمد شاه ناموس، د خوشحال خان پګړۍ او د فخر افغان قربانۍ ساتلو دپاره هغه نهٔ خو د دارا او سکندر نه ویرېږي، نهٔ نادر نه شنډه کوي، نهٔ یې هټلر نه سترګه سوزي او نهٔ ورته کهٔ سل وي کهٔ زر وي، چرچلیان څهٔ ښکاري. هغه د دغه استعماریانو مخه نیولو دپاره د خپلو لښکرو

علامتونه یادوي، هغه د خپلو زرګونو کلونو تاریخ نه هم خبر دے او دلته د راغلو استعماري او استبدادي قوتونو د دسیسو او موخو نه هم خبر دے. هغه د بائیلي ژوند په ځائے د ویاړلي مرګ افتخار پېژني، ځکه خو خپل هسک سر د مرګ په بیعه هم هسک ساتلو دپاره وایي:

"کۀ کاڼي تږول اېتم بمونه شي، یو ځل مرګ دے
ویره مې نشته د هر چا په خپل اجل مرګ دے
نر په مېدان کښې مري کندو کښې د بزدل مرګ دے
د بزدلۍ ژوندون په اور وسوزه تل مرګ دے
بغېر له خدایه سر بل چاته ټیټولے نۀ شم
د پښتنو زمکه بل چاته پرېښودلے نۀ شم"(3)

بیا د خپلې سیاسي عقیدې د لارې سره سم هغه هاغه قوتونو ته تقویت ورکوي چې د دۀ قوم او وطن مادي، ژبني، کلتوري او روحاني حقونه یې غصب کړي دي. په دې لړ کښې هغه په ځان دا قامي فرض ګڼي چې د خپل قام فکري روزنه وکړي او نوے کهول د روانو چارو نه خبر وساتي.

په "خدائي خدمتګار"(4). نومې نظم کښې هغه د تاریخي تلمیحاتو یوه لړۍ بیانوي او بیا یې د قامي غورځنګ دپاره د خدائي خدمتګارۍ او باچا خان سره انډولوي چې دې نه ثابتېږي چې هغه په خپل فکر او نظریه ښومره پوهه دے او د خپلې سیاسي عقیدې سپېځلتیا او تقدس نه ښومره خبر دے.

فضل الرحیم ساقي هر ښو د پاکستان دننه هم خپل سیاسي تسلسل ماتېدو له ورکړے نۀ دے او د خپلې قامي سیاسي مبارزې نه په شا شوے نۀ دے، ځکه خو یې په اتلسم مۍ ۱۹۵۷ء کښې "نېشنل کانفرنس" دپاره لیکلي نظم کښې د خپلې نظریې وکالت په دې ډول کړے دے:

"انیس سو انیس (۱۹۱۹) کښې مې دۀ سره هجرت کړے دے
بیا ورسره مې اتفاق په خلافت کړے دے
انیس سو تیس کښې مې په مرګ باندې بیعت کړے دے
په ښو ښو قسمه مې د خپل وطن خدمت کړے دے
بس اقتداء مې هم په دغه مسلمان پسې ده

ملا مې ترلې د همت په باچا خان پسې ده

د پېرنګي د جېلخانو نه وېرېدلے نۀ يم
د مشين ګنو د ګولو نه بوربېدلے نۀ يم
د حق د لارې نه تراوسه اوړېدلے نۀ يم
طمعه مې کړې نۀ ده چاته ودرېدلے نۀ يم
جندره وهلې مې د ځان په سود او زيان پسې ده
ملا مې ترلې د همت په باچا خان پسې ده

د پېرنګيانو نه هم دې بوډا مېدان وګټه
خپل ځان يې خاورې کۀ او قام له يې نشان وګټه
هندو له ګرنت او مسلمان له يې قرآن وګټه
غريبه تاله يې د ووټ ساز و سامان وګټه
اوس تلوسه يې د پښتون پښتونستان پسې ده
ملا مې ترلې د همت په باچا خان پسې ده

د هر يو قام دپاره خپل زېب او زينت غواړي
د هر چا خپله اسمبلي او خپل عزت غواړي
په يو مرکز باندې د ټولو شراکت غواړي
په پاکستان کښې حقيقي جمهوريت غواړي
خدائے ګو ژبے مې د پښتون پښتونستان پسې ده
ملا مې ترلې د همت په باچا خان پسې ده

نېشنل پارټۍ ته د وګړي نن سبا سترګې دي
د وږو ترږو د بربنډو نيمه خوا سترګې دي
د اوښکو ډکې جېلخانو کښې بېګناه سترګې دي
نوي ژوندون او قيادت ته د هر چا سترګې دي
د ښځو لويه پرګنه په باچا خان پسې ده
ملا مې ترلې د همت په باچا خان پسې ده

د ساقي خوښ یواځې نهٔ دے د هر چا خوښ دے
د ښځو نرو، وړو لویو د دنیا خوښ دے
د بې غرضه زبرګ سید میا او مُلا خوښ دے
بې له هغوي چې امریکه کښې یې ښیا خوښ دے
فخر افغان لاره نیولې په قرآن پسې ده
ملا مې تړلې د همت په باچا خان پسې ده"(5)

دې نظم کښې د ۱۹۱۹ء هجرت نه د تحریکِ خلافت مرستې پورې او بیا د ۱۹۳۰ء د خونړو واقعاتو د تذکرې پورې خبره شوې او دا یې هم یادول ضروري ګڼلي چې په دې ټولو ازمېښتونو کښې مونږ د فخرِ افغان باچا خان ملګرتیا پرېښې نهٔ ده. د پېرنګي د ټوپکو مرمیو ته کهٔ ډال شوې سینه ولاړ وو نو خپلو ځانونو او خپلو ارمانونو باندې مو د قام او وطن دپاره پښې ایښې وې. په دې نظم کښې د مذهبي هم اهنګۍ او جمهوري اقدارو خبره هم شوې ده، دغسې په وسائلو د حق د غوښتنې سره، د ښځو د حقوقو او د انسانیت د احترام خبرې ښايي چې نیمه پېړۍ اګاهو د دغه فکري مکتب د سوچ زاویه نن د هر یو سیاسي رنګ په بېرغ لیکلې شوې ده او هغه خلق هم د دې فکري مکتب نظریې طرف ته د خپلې سیاسي بیانیې تر حده رارسېدلي دي، کومو خلقو چې به دوي باندې فتوې تپلې.

په ورپسې نظم "حکومت"(6)." کښې هم د پېرنګي د پالېسیو د غندنې سره سره په پاکستاني ریاستي سوچ باندې نیوکې شوې دي چې د پښتون وطن او د پاکستاني ریاست دننه د نورو قامونو حقونه یې د ازادۍ او وفاق په نامه غصب شوي ساتلي دي. د ریاست دې رویې چې کله دوي ته د خپلو حقونو ترلاسه کولو کښې د لارې خنډ شوي دي نو خپل زورور احتجاج یې دغه نظم کښې د تاریخ په برخه کړے دے.

"شهید ته سلام"(7). د ۱۹۳۰ء په خونړو واقعاتو کښې په خپلو وینو د قام د ازادۍ تاریخ رنګین کوونکو شهیدانو ته د عقیدت پېرزونې دي. د دغه قربانیو په ترڅ کښې د یوې داسې لارې او یو داسې لاربنود ضرورت قام ته ؤ چې هغه د ظلم خلاف خپل احتجاج هم ټولې دنیا ته ورسوي او د ظالم نه د ظلم کولو جواز هم وتروړي. د هیلې دغه وړانګه د پښتون قام ستر لاربنود فخر افغان باچا خان ؤ

چي په دغه حالاتو کښې يې قوم ځان سره کړو او د ظلم خلاف لکه د کسي د غر کلک او هسک ودرېدو. د قام او وطن په خدمت د فخر افغان باچا خان ستاينه او صفت په خپل يو غزل نما نظم کښې د رديف په نسبت ورکړے شوي سرليک سره داسې کوي.

**"ستړي شو**

فخرِ افغانه! په صفت دې شاعران ستړي شو
په قېدولو دې ناترسه ظالمان ستړي شو
ستا د ځوانۍ نه په پيرۍ کښې ولولې زياتې شوې
درپسې ټول د پښتنو زاړۀ ځوانان ستړي شو
ستا ډېرې مينې کړل وېزار د مور او پلاره ځنې
د راتلو لاره کښې دې ناست دي ماشومان ستړي شو
ستا د همت او تدبر په تماشو کښې مدام
چاپېره چورلي دواړه کسي د اسمان ستړي شو"(8)

او څنګه چي د دې مکتب بل نومورے شاعر او د فضل الرحيم ساقي ملګري شاد محمد خان مېړي باچا خان ته د "فخرِ افغان" په ځائے "فخرِ تمام" وئيلو، نو هم دې نظم کښې يې د هغې يادونه هم کړې ده:

"د شاد محمد د خولې کلام "فخرِ تمامه"(9). زمونږ
ستا انتظار کښې د وړو لويو چشمان ستړي شو
د پاکستان حکومت دوي نه چارج واخيستلو
چې لاس يې پورته کړو ستا جنګ کښې پېرنګيان ستړي شو
د صداقت مقابله دې څوک کولے نۀ شي
ډېرو سرونه ښکته کړۀ په سپين مېدان ستړي شو
ستا د خدمت صفت لا هغسې باقي پاتې دے
پرېسونه تت شو په ليکلو کاتبان ستړي شو
ساقي به هله ستا د وصف له بيانه پرېوځي
کۀ د ګلونو په ستاينه بلبلان ستړي شو"(10)

د پاکستاني ریاست چې په وړومبۍ دستور سازه اسمبلۍ کښې د باچا خان سوګند هم رد کړو او د پښتونستان ائیني حق یې پاکستانے خیانت وګرځولو نو هم دغه نظم "سترې شو" کښې ساقي صاحب د قام او وطن د پېغور پټکے په سر تړلي فخرِ افغان ته ووئیل:

"د پاکستان حکومت دوي نه چارج واخستلو
چې لاس یې پورته کړو ستا جنګ کښې پېرنګیان سترې شو"(11)

د پښتون وطن او نورو سیمو قدرتي وسیلې او سیمې د خپل متې لاندې راوستلو دپاره ټول پاکستان نه د "ون یونټ" جوړولو فېصله هغه د زهرو ګوټ ؤ چې ریاست د خپل زور په نشه کښې وځښلو خو قریباً چې یوه عشره پس کله دغه "ون یونټ" د سیاسي او جمهوري ځواکونو د قربانیو نه وروسته ماتېدلو نو ځان سره یې د جناح صاحب پاکستان هم یوړلو. د فضل الرحیم ساقي قلم په دغه وخت "د یو یونټ د جوړېدو نه پس" نوم باندې دا نظم ولیکلو چې د محکومو متاثره قومونو د جذباتو تصویر وړاندې کوي:

"په رڼا ورځ د پښتون کور تالا شو
هیڅ نۀ پوهېږم په کوم تور تالا شو
وړاندې شه بیا فخرِ افغانه بابا
په پښتنو لکه اسمانه بابا
زمونږه چغو هیڅ اثر ونۀ کړو
رحم یزید شمر عمر ونۀ کړو
زمونږ مرّوند نه یې خنجر جوړ کۀ
په پښتونخوا کښې یې محشر جوړ کۀ
د احمد شاه خونه میراته شوله
د شېر شاه توره بېخ کښې ماته شوله
دنیا کښې سترګې غړولے نۀ شو
اسمان ته لار نشته ختلے نۀ شو
چې د یونټ سپېرۀ اعلان شوے دے
د توپې ډز په هر انسان شوے دے

هر يو پښتون خجل خجل ښکاري
زمونږ جهان بدل بدل ښکاري
مونږ ته دې تور ځنګل کښې لاړ وښايه
چې پرې خلاصېږو هغه کار وښايه
د مرګ په غېږه کښې ژوندون غواړو
پګړې لۀ تانه د پښتون غواړو"(12)

دا د تاريخ الميه ده چې د "ون يونټ" نه اګاهو فخرِ افغان د اولس بېدارولو دپاره د ملک لرې لرې سيمو ته تللے ؤ او اولس يې په دې بېدار کړے ؤ، هر څو کۀ په نوره نړۍ کښې په عمومي او پاکستان کښې په خصوصي توګه د ريفرنډم شفافيت پاتې شوے نۀ دے خو بيا هم په تاريخي، جغرافيايي او فرهنګي بنيادونو د قامونو د زرګونو کلونو تاريخ راخستل او هغه په "ون يونټ" کښې تومبل کۀ څۀ منطقي جواز نۀ لرلو خو بيا هم کۀ دا سياسي مسئله وه نو بايد د ريفرنډم تکلف پرې شوے ؤ. په دې موضوع د ساقي صاحب دا نظم "د يونټ جوړېدو نه وړاندې" ټوله خبره او د رياست تور تندے مخې ته راوړي.

"سوونه جلسې وکړلې غازي فخرِ افغان
هر يو پښتون يې پوئې کړو د يونټ په سود او زيان
هر چا لاسونه ايښې دي په غوږو توبه ګار دي
لا هغسې په ضد دے حکومت د پاکستان
يونټ نۀ دے رسۍ ده د رېښمو ښېدلې
هر يو پښتون له اوي پوزه کښې پېزوان
دا کور د عنکبوت جال د مچانو ګېرولو
جوړ شوے انګلستان کښې دے په ګوتو د شېطان
ريفرنډم د يونټ په مسئله باندې پکار دے
راغونډ دې حکومت کړي ټول د سيلې پټيان
دا نۀ دي د کوړو دولتانه د خولې خبرې
باهر ته دې راووځي امزري د دستر خوان
د هر چا خپل جائيداد دے د هر چا ده خپله برخه
هيچا ګډه کړے نۀ دے په خپل کور باندې تالان

زمونږ د خوږ وطن اختیار به څنګه بل له ورکړي
د خپل وطن اختیار چي ځان له غواړي بنګالیان
په بوسو کښې به بیایمه اوبۀ پټې تر کومه
وطن د پښتنو دے نوم یې دے پښتونستان"(13)

هم دې لړ کښې چي کله په اولسي رائې پښې کېښودې شوې او د "ون یونټ" باضابطه اعلان وشو نو بیانیه احتجاج ورو ورو عملي شو چي بدخواهۍ یې نورې هم ښکاره کړې. ساقي صاحب دلته هم د ټولو محکومو او مظلومو قومونو راپورته کړے شوو سوالونو ته خپل نظم "د یونټ برخلاف" کښې ژبه ورکړه:

"اوس ورله دام د سپینو لومو د یونټ جوړوي
چیني دانه هم پکښې نشته داسې لټ جوړوي
زمونږ څرمن وباسي ځان له څپرکټ جوړوي
خاموش لېلام زمونږ د پلار نیکۀ په څټ جوړوي
چې بیا د تورې لاندې سر هم ړقولے نۀ شي
پښتانۀ ولې پاکستان کښې ځائېدلے نۀ شي"(14)

او بیا د خپل قامي شناخت د استحصال خلاف لیکي:

"یونټ کښې خبر د سندهـ، پنجاب، بلوچستان نشته دے
خپل قومیت یې فنا کېږي، د افغان نشته دے
بې د کوتک نه څۀ دلیل د حکمران نشته دے
خاونده! ترس د مسلمان په مسلمان نشته دے
سمه خبره هم په ډاګه څوک کولے نۀ شي
پښتانۀ ولې پاکستان کښې ځائېدلے نۀ شي"(15)

ژبه د قامي جوړښت او شناخت یوه بنیادي حصه ده او کله چي د "وطن مینه" نومې نظم کښې د قامیت دپاره د خپلې جغرافیې، قامي ناموس، کلتور او نورو حوالو ذکر کولو کښې هغه د مورنۍ ژبې ذکر هم نۀ هېروي او وایي:

"په پښتو ژبه په ځانګو کښې ځنګېدلے یمه
په پښتو ژبه په مکتب کښې لوئېدلے یمه

په پښتو ژبه په ځوانۍ کښې جنګېدلے يمه
په پښتو ژبه په پيرۍ کښې پوهېدلے يمه
پښتو کښې شوے خدا ے سره عهد و پېمان دے زما
خپل قوميت شاته کول پوره تاوان دے زما"(16)

لکه څنګه چې د خدائي خدمتګار فکري مکتب په بنيادي اجزاء د خبرې کولو په وخت ما د خپلو اتلانو او تاريخ ساتل هم ليکلي، په دغه حواله د ساقي صاحب په شاعرۍ کښې ګڼ مضامين موجود دي. د ۱۹۳۰ء خونړۍ پېښه او د دې پېښې نه پس د اولسي غورځنګ مخنيوي دپاره چې پېرنګي استعمار په ټکر او سپين تنګي کښې د وينې رودونه بهيولي وو او بيا چې د اګست په دولسمه ۱۹۴۸ء کښې په بابړه کښې د پښتنو کومې وينې بهېدلې وې، ساقي صاحب ډېر په عقليت او جذباتيت دواړي دغه واقعې خپل نظم کښې ځائے کړې دي او خپل قامي حق يې ادا کړے دے.

"د قيصه خوانۍ د شهيدانو ياد" نومې نظم کښې د جابر حکمران د ظلم او جبر مقابله کښې د عدم تشدد عقيدې سره د ولاړو شهيدانو نسبت د کربلا د معصومې وينې سره کوي، وايي:

"په لپو ځښلې دي ظالم د مظلومانو وينې
قيصه خوانۍ کښې بهېدې د شهيدانو وينې
تيس اپرېل سن تيس کښې جنګ د ازادۍ ؤ زمونږ
توې کړې وې د قام دپاره کانګرسيانو وينې
مونږه له سر و ماله تېر يو د وطن په مينه
بهېږي جنګ د ازادۍ کښې د ځوانانو وينې
ټوله دنيا کښې هيڅ يو څيز داسې ارزان نشته دے
لکه ارزانې دي زمونږ د غلامانو وينې
مونږ د عدمِ تشدد ورسره جنګ کړے دے
ناحقه توې کړلې زمونږه ظالمانو وينې
د پرهرونو د ځوانانو تلې چپې د وينو
د کونډو رنډو بهېدلې د چشمانو وينې
په مشين ګن سورې اورې زلمي يادېږي زمونږ

وهي تن جوش د ازادۍ د عاشقانو وينې
مانۍ به پرېوځي د ظالم سرمايه دار په خپله
چې ورته ډنډ چاپېره شي د مزدورانو وينې
ساقي! دنيا ته کړه ښکاره ظالم انګرېز په ګوته
لکه حسبنع توې کړه د خپلو ماشومانو وينې"(17)

دغه رنګ يې د څۀ تبصرې د بابړې (چارسدې) د شهيدانو د نمانځنې په وياړ طرحي مشاعره کښې پېش شوے دا نظم دلته راوړم چې د قامي او وطني شاعرۍ د فکري، جذباتي او عملي رنګونو يوه نمونه هم ده او د خپل مقصد او تګلارې سره د **Commitment** ثبوت هم دے.

"خيال د ازادۍ چې راپېدا شي په سرونو کښې
بيا يې ټينګولے هيڅوک نۀ شي زنځيرونو کښې
کومې مسئلې چې نۀ حل کېږي تدبيرونو کښې
حل شي د غازيانو په اوچتو تکبيرونو کښې
چغې دي، نعرې د شهيدانو په قبرونو کښې
نشته کاميابي په انديښنو او په فکرونو کښې
دا پښتونستان په هغې ورځې قائم شوے دے
سرې وينې چې توې شوې په دې لارو ګودرونو کښې
نښې د پسرلي د پښتنو جوړې ځرګندې شوې
سرۀ ګلونه وينم په دې شاړو بنجرونو کښې
دا چې باچا خان باندې ظلمونه يزيديان کوي
مالګې دوړوي د شهيدانو پرهرونو کښې
غشے د مظلوم د زړۀ د آه چې کوم اثر لري
هغه طاقت نشته د اسمان په تندرونو کښې
هغه چا چې مونږه د اجل ګولو ته نخښه کړو
دې اسمان پرې نۀ ښودل بنګلو او موټرونو کښې
دا د چارسدې د شهيدانو برکت دے نن
سرې جنډې رېښې په اوچتو سنګرونو کښې
چا د شهيد سرو وينو کښې خپلې جامې رنګ کړلې

چا په څو پیسو باندې بدل کښې دلبارونو کښې
ټول پښتونستان په دې رڼا باندې ګزران کوي
سرې ډیوې بلېږي چار چاپېره مزارونو کښې
خان فخر افغان زمونږ دپاره بندیوان شولو
څومره بې ننګي ده مونږه ناست یو په کورونو کښې
اے ساقي! کۀ سر دې ښکته نۀ کړلو شهید شولې
بیا به دې قومي شاعران ستایي په شعرونو کښې"(18)

په "ون یونټ" د پښتنو په کور کښې راغلي اختلاف باندې ساقي صاحب هم خپل قلم د څۀ مصلحت په نامه خاموشۍ ته پرېښے نۀ دے او کله چې د هاتي خېلو د شهیدانو نمانځنه کېدله نو هلته یې په نظم کښې ګوته نېغه د هغه وخت د "ون یونټ" په وزیراعلی ډاکټر خان صاحب کېښودله.

"زمونږه جنګ د پېرنګي سره سوړ شوے نۀ دے
زمونږ په وینو لا تر دې وخته موړ شوے نۀ دے
د تلو په وخت کښې یې په مونږ داسې ګزار وکړلو
زخم یې ورځ په ورځ ورانے کوي جوړ شوے نۀ دے

بیا جېلخانې لره غازي فخرِ افغان تلے دے
د پښتنو د حق دپاره سرګردان تلے دے
د پنجابیانو نه مې هیڅ ګیلې مانې نشته دے
افسوس په دې دے چې په لاس د ډاکټر خان تلے دے

یوسف کۀ ورونو ورګزار کړو د زندان کوهي ته
باچا خان خپل ورور ورګزار کۀ د زندان کوهي ته
په درې نیم زره کاله پس تاریخ ګردان وکړلو
په خپل ښائست باندې غورځېږي پاک انسان کوهي ته"(19)

د وزارتونو او نصابونو ډالۍ چې کومو خلقو هم اخستې دي، هغه یې د خپل سیاسي تربیت په رڼا کښې یاد کړي دي او هر څو کۀ په خپل کور کښې یې دېوال ودرېدلے دے، خپل عزم یې پرېښے نۀ دے او د دغه نظم خاتمه یې په دې بېتونو کړې ده:

"یا به پښتون له خپله برخه پاکستان ورکړي
یا به سرونه پښتانهٔ په سپین مېدان ورکړي
هر څهٔ به وکړي پښتانهٔ خو دا کولے نهٔ شي
چې پنجابیانو له به خپل پښتونستان ورکړي

د شهیدانو په وړو وړو سلګو مې قسم
د پرهار ژلو په درنو زبېرګو مې قسم
د دوي د حق او صداقت لاره به پرې نهٔ ږدمه
د باچا خان د دواړو پښو په ځولنو مې قسم

څوک چې د حق دپاره مرګ ته ودرېدلے نهٔ شي
تش په خبرو خپل حقونه اخستلے نهٔ شي
ساقي! قدم د شهیدانو په قدم کېده
بیا دې دنیا کښې هیڅوک مخه بندولے نهٔ شي"(20)

یو خوا کهٔ په "سفر"(21) نومې نظم کښې د ۱۹۴۲ء موده کښې د فخرِ افغان په وېنا قبائلو ته د خپل تګ منظوم روداد بیانوي او خپله مشاهده د خپل نظم په زور قلم ته سپاري نو لهٔ بلې خوا هم په دغه نظم کښې د باچا خان دوه ماتې پښتۍ او دوه نیم کاله قېد یې هم یاد کړے دے. کله چې دا دومره قربانۍ او د قام دپاره شوي کوششونه هغه ځائے ونهٔ نیسي، د کوم چې توقع کېږي نو د شاعر د قلم په ژبه د هغهٔ ذهني انتشار د نا امیدۍ په شکل کښې راښکاره شي او وایي:

"څهٔ کرم ربه! بې مروته پښتانهٔ
د غلیم دُرشل ته ښکته پښتانهٔ
په نارو نارو مې زړهٔ شو ورته سترے
پورته نهٔ شو لهٔ غفلته پښتانهٔ
د ورور سپینې پرې کوي چې ترې نه لوړ شي
نا خبره لهٔ تهمته پښتانهٔ

غلامیو ورله ځتې دے سولولے
ځوک به څۀ کړي ملامته پښتانۀ
د مذهب په نامه کفر ته روان دي
مخ په ځتې لۀ شریعته پښتانۀ
لکه مچ د جولاګي په دام کښې ګېر شول
یو ځل نۀ په ځو کرته پښتانۀ
ننګیالي زلمي وراستۀ شول جېلخانو کښې
په ځنګ نۀ اوړي په لته پښتانۀ
باچا خان بندي سره د دوو زامنو
ورسره دي ځو نېک نیته پښتانۀ
هر ځائے زوړ دے پښتانۀ دي پارېدلي
پاکستان کړل هزیمته پښتانۀ
سپک ژوندون نه مرګے ښۀ دے هزارواره
ساقي! ویښ کړه لۀ سرعته پښتانۀ"(22)

خو عېن وخت کښې هغه بیا هم یو ځل خپل ځان، خپل خېل او خپل سرخېل ته یو نظر ګوري او وایي:

"یو خوا پښتون پورته کول بلخوا انګرېز غورځول
یا معجزه ده یا جادو فخرِ افغان کړے دے"(23)

په قامي شاعرۍ کښې داسې بې شمېره نظمونه، غزلونه، قطعې او رباعیات شته چې د وطن مینه، د قام حرمت او د پښتون جلال په رڼا ځلنده دي. دغه نظمونو کښې "پښتونستان"(24)، "ارمان"(25) ، "د میروس په جلسه کښې"(26) "د پښتنو ترانه"(27) " او داسې نور شاهکار نظمونه شته چې قامي او وطني مینې نه برجق دي.

"ډک جام" نه به دلته د قامي او وطني شاعرۍ په سلسله کښې صرف په دوه نظمونو اکتفا وکړم چې د قامي تحریک په لاړ د جمهوري او پارلیماني سیاست په اړه ساقي صاحب لیکلي دي.

"رامعلوم شو راته ټول جمهوریت ستا
ډک له زهرو هلاهل نه ؤ شربت ستا
نیم سیرے دے نغښتے ؤ په پاغونده کښې
بېخ دې ووځي د دې داسې حکومت ستا
دروازه پرانستې پرې نۀ ږدې د زړۀ
مرغلرې لوستې پرې نۀ ږدې د زړۀ
بیا په بېرته نۀ راځي مارغۀ خلاص شوے
چرته لومې سستې پرې نۀ ږدې د زړۀ
ټولواک وي او کۀ صدر د جمهور وي
چې انصاف او عدل نۀ وي ملک تنور وي
دعوې ډېرې وي د هرې یوې ډلې
چې یې خولې ته کړې هغه تراوۀ انګور وي"(28)

او دوېم نظم کښې یې د خالص پښتني ټولنې او جرګې د نفسیاتو سره سم د جمهوریت په حقله خپله رایه په خپل نظم "زما جمهوریت" کښې داسې څرګنده کړې:

"دا زما جمهوریت واوره پښتونه!
دلته کښمه په دې وړیو څو بیتونه
سیاسي مذهبي ډلې ټول پناه کړه
دوي په زور په چل وټې اخلي ووټونه
اول چوڼ د یو ټول مشر شي په ګډه
د هغه په لاس دې جوړ شي چوڼ مېچونه
هر چوڼ مېچ نه دې بیا یو یو مېړۀ خوښ شي
چوڼ کوي به یې عاقل بالغ مړونه
پس هغه مېړه به درې په شلګون کښې
چې کوې شي د وګړي خدمتونه
حکومت دې نیک عمله او پوهان کړي
ورستانه دې شي بد کارو ته نومونه
په شلګون کښې دې څو کسه وزیران شي

او ټول مشر دې ورښايي ټول کارونه
کۀ ورانے په دوي کښې نۀ وي څرګند شوے
نو تر شلو کالو وي دې دا مړونه
کۀ ټول مشر په ممبر شي بدګمانه
بل دې چوڼ د دۀ په ځائے شي تر پايونه
او هغه لره دې داسې سزا ورکړي
چې باقي عالم ترې واخلي عبرتونه
چې تر څو پورې وي ډلې او ټپلې
مخ تګ ګران دے د نړۍ په ګودرونه
هر يو کار چې خوښ ډېر وشي نو ښۀ دے
نۀ چې ډېر دې بدلوي د خدائے حکمونه
ساقي! خپله غاړه خلاصه کړه ووايه
نور به هر څوک سره ګوري خپل بندونه"(29)

لکه څنګه چې د دې باب په پېل کښې وئيلے شوي وو چې په "نيم جام" خپله خبره کښې ساقي صاحب ليکلي وو چې زما زياته شاعري په "ډک جام" کښې چاپ ده. دغسې "نيم جام" په دوه بېتو "قطعاتو" مشتمل کتاب دے چې د دې په حقله هغه "خپله خبره" کښې ليکي:

"زما په خيال کښې خلقو ته د خپلو جذباتو د اظهار دپاره د نثر نه نظم ډېره زړۀ ته پرېوتونکې ټوټه ده او د مخمس، مسدس، رباعي غزل نظم وغېره نه دوه بېته راته ډېر فائده مند څيز ښکاري ځکه چې د دې نقشه ورکوټې ده، ډېره زر يادېدے شي او کۀ ياده هم نۀ شي نو بيا هم د دې د نقشې يو ورکوټے عکس د فکر په ائينه باندې پرېوځي چې په خپله موقع سرې ته مخې ته کېږي او فائده ترې نه اخستې شي. په دې وجه باندې زۀ د خپلو دوو بېتو يو ورکوټے غوندې کتاب د خپلو پښتنو وروڼو په خدمت کښې پېش کول غواړم"(30).

د ساقي صاحب دغه منطق ته کۀ موڼږ په معاصر پښتو ادب کښې ځير شو او کۀ زموڼږ شا و خوا نورو ژبو کښې يې وګورو، هغه شاعرانو اديبانو ته ډېر مقبوليت حاصل دے چې قطعې، دوه بېتي يې زيات ليکلي دي. ساقي صاحب دې کتاب کښې صرف دوه بېتۍ نۀ دي ليکلې بلکې وخت په وخت يې ځينې

مضمونونه هم د نظم او رباعۍ په چوکاټ کښې په دې کتاب کښې ځائے کړي دي.

په وړومبۍ دوه بېتۍ کښې ساقي صاحب د اجتماعي قامي شعور نه ګیله کړې:

"زړۀ مې سترے شو په ډېرو اندېښنو کښې
درېغه نۀ وے پېدا شوے پښتنو کښې
مرغلرې په شوکاڼو باندې وولې
مرګے ښۀ دے نۀ ژوندون په لېونو کښې"(31)

په پارلیماني سیاست کښې یې کۀ په ډاکټر خان صاحب نیوکه کوله نو د جناح صاحب په وېنا د قیوم خان سیاسي رشوتونه، عن چې تر اوسني روان "هارس ټرېډنګ" یې هم خپل اند څرګند کړے دے:

"یوه ډله چې څوک مشر منتخب کړي"(32).

انساني ذهن د وخت او حالاتو تر مخه د بېلا بېلو کېفیتونو نه تېرېږي او کله چې مونږ د یو انساني ذهن اجمالي جاج اخلو نو باید دا وګورو چې د دۀ په وېنا او عمل کښې کوم کېفیت زیات حاوي او څرګند دے. د قامي او وطني خدمت دپاره د فخرِ افغان باچا خان په مشرۍ کښې دې نوموړي کۀ کله کله حوصله بائېللې هم ده، خو بیا یې ځان له د راپاڅېدو او په یو نوي امید د سفر کولو جواز لټولے دے. دې لړ کښې دا شعرونه د مثال په توګه وړاندې کوم:

"خلقې څومره ورکې د دنیا نه شولې
دنیاګۍ نۀ په چا ودانه او نۀ ورانه شولې
سترګې ړندې د یعقوب شولې په لیدو د قمیص
بیا په لیدلو د قمیص باندې روښانه شولې
خطا معاف شولې د ورونو د یوسف همګې
خدایه! په ټولو باندې څومره مهربانه شولې
یوسف دې وساتۀ له واړو پساتونو څخه
ورسره مل تر امارته له کنعانه شولې
ورله دې ورکړو رسالت له حکومته سره
سختې اوچتې د یعقوب له خاندانه شولې

خدایه! په مونږه ورحمېږې د هغو له مخه
د ظالمانو شملې جګې تر اسمانه شولې
د عشق په لاره کښې ساقي ګیلې مانې مهٔ کوه
څلور نیم کاله په قېدو باندې ستومانه شولې"(33)

دلته به د "نیم جام" نه په څو دوه بېتو راخستلو اکتفاء وکړم چې قامي او وطني مضامین لري.

"چې ګوندي دې یوه ډله کښې پېدا شي
تلهٔ راتلهٔ له بلې ډلې ناروا شي
کهٔ دې ورور کهٔ دې عزیز کهٔ دې اشنا وي
چې د بلې جنبې وي دښمن به ستا شي"(34)

"چې په خپلو پښو څوک نهٔ شي ودرېدلے
هغه قام په ژوندانهٔ وي دم ختلے
چې پوره کړي په وطن ضروریات خپل
ښهٔ ژوندون شي په دنیا کښې تېرولے"(35)

"خبر غواړم اول د پښتون بیا د مسلمان
ځکه چې زهٔ یم اول پښتون بیا مسلمان
پښتون چې د پښتو له دود دستوره ځان وباسي
هغه نهٔ دے پښتون نهٔ مسلمان دے نهٔ انسان"(36)

فضل الرحیم ساقي صېب د قامي او وطني شاعرۍ په ترڅ کښې مکالماتي انداز هم خپل کړے دے او د مکالمو په شکل کښې یې یو نظم لیکلے دے چې په وطن جنګ روان دے او په خدائي خدمتګارو یو ناتار جوړ شوے دے، باچا خان په جېل کښې بندي دے او په دې وخت کښې یو پښتون زلمي خپل کور ته ډولۍ راوړې ده او د وادهٔ په شپه هغه د وطن جنګ له تلل غواړي او ناوې یې هم ورسره د تګ ضد کوي.

"هلك: ناوې راپاځه سپین تندے دې ښکلومه
د وطن جنګ دے هسکه غړې ځمه

ناوې: بغېر لۀ تا به عمر څنګه تېرومه
د سترګو توره،زۀ درسره ځمه

هلك: بیا یې نیولے باچا خان دے
په جېلخانه کښې بندیوان دے
بهر زمونږه ژوندون ګران دے
دې حکومت باندې به سر وګرځومه
د وطن جنګ دے، هسکه غړې ځمه

ناوې: پرون دې راوړمه ډولۍ کښې
شومه د سیالو په سیالۍ کښې
ستا د لیدو په خوشحالۍ کښې
د وادۀ سره جوړه به څنګه زړومه
د سترګو توره، زۀ درسره ځمه

هلك: سبا جلسه ده چارسده کښې
د چارسدې په مقبره کښې
د مشین ګنو دائره کښې
قومي نشان به د دوي مېنځ کښې ودرومه
د وطن جنګ دے، هسکه غړې ځمه

ناوې: تۀ به شهید په سپین مېدان شې
یا به په جېل کښې بندیوان شې
پخپله خاوره به قربان شې
زۀ به تر مرګه پورې اوښکې څڅومه
د سترګو توره، زۀ درسره ځمه

هلك: پولیس باړر د فوځ سپایان هلته وي
د مشین ګن ګولۍ باران هلته وي
تمام طاقت د پاکستان هلته وي
تۀ کور کښې کښېنه پاک الله ته دې سپارمه
د وطن جنګ دے، هسکه غړۍ ځمه

ناوې: چې تۀ شهید شې زۀ ژوندون څۀ کوم
تمامې عمر کړېدون څۀ کوم
ترخې څپېړې د بېلتون څۀ کوم
چې تۀ مړ کېږې زۀ دې وړاندې درنه شمه
د سترګو توره، زۀ درسره ځمه

هلك: زړۀ به دې خور شي چې مېدان ووینې
سنګین چړاؤ جنګي سپایان ووینې
تورې لوخړې په اسمان ووینې
بیا به ستومانه یې چې ولې راوتمه
د وطن جنګ دے، هسکه غړۍ ځمه

ناوې: د غېرتې پلاره پېدا یمه زۀ
مرګ له روانه په خندا یمه زۀ
پخپل وطن باندې شېدا یمه زۀ
ښځه مې نۀ کړې کۀ په شا ولګېدمه
د سترګو توره، زۀ درسره ځمه

هلك: چې خامخا نۀ ایسارېږې ګلې!
ماسره سمه روانېږې ګلې!
راځه چې ځو چې خفه کېږې ګلې!
د ځان سره به دې په څنګ کښې ګرځومه
د وطن جنګ دے، هسکه غړۍ ځمه

ناوې: ساقي له سترګو دې قربان شمه
درنه لوګے په سپین مېدان شمه
زار له پګړۍ د باچا خان شمه
په ځنکدن کښې به دې سترګې ښکلومه
زما جانانه! وړاندې درنه ځمه"(**37**)

# حوالې


(1) کروړ، امیر، روهي ادب، لیکونکی: محمد نواز طایر، دوېم ایډیشن، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۲۰۰۵ء، ۵۴ مخ.

(2) فدا، عبدالمالک، دیوانِ فدا، دارالتصنیف پېښور، دوېم اشاعت، ۱۹۷۲ء، ۲۷ مخ.

(3) ساقي، فضل الرحیم، ډک جام، د رهبر د اشاعت څانګه پېښور، کال ۱۹۵۷ء، ۲ مخ.

(4) ساقي، فضل الرحیم، ډک جام، ۳، ۴ مخونه.

(5) همدغه اثر، ۲ مخ.

(6) همداغه اثر، ۹، ۱۰ مخونه.

(7) همدغه اثر، ۱۱، ۱۲ مخونه.

(8) همدغه اثر، ۱۲، ۱۳ مخونه.

(9) همدغه اثر، ۱۵ مخ.

(10) مېرې، شاد محمد، مئینتوب، ۴۹ مخ.

(11) ساقي، فضل الرحیم، ډک جام، ۱۵ مخ.

(12) همدغه اثر، ۱۴ مخ.

(13) همدغه اثر، ۲۴، ۲۵ مخونه.

(14) همدغه اثر، ۲۰ مخ.

(15) همدغه اثر، ۲۱ مخ.

(16) همدغه اثر، ۱۷ مخ.

(17) همدغه اثر، ۱۰۴ مخ.

(18) همدغه اثر، ۲۰، ۲۱ مخونه.

(19) همدغه اثر، ۲۲، ۲۳ مخونه.

(20) همدغه اثر، ۲۴ مخ.

(21) همدغه اثر، ۴۵ مخ.

(22) همدغه اثر، ۴۳، ۴۴ مخونه.

(23) همدغه اثر، ۴۲ مخ.

(24) همدغه اثر، **۵۵** مخ.
(25) همدغه اثر، **۱۳۶** مخ.
(26) همدغه اثر، **۱۴۲** مخ.
(27) همدغه اثر، **۲۳۵** مخ.
(28) همدغه اثر، **۲۲۲** مخ.
(29) همدغه اثر، **۲۳۱**، **۲۳۲** مخونه.
(30) ساقي، فضل الرحیم، نیم جام، "خپله خبره"، یونیورستي بک ایجنسي کابلۍ دروازه پېښور، د چاپ کال نهٔ لري، الف، ب مخونه.
(31) ساقي، فضل الرحیم، نیم جام، ۲۰ مخ.
(32) همدغه اثر، **۳۲** مخ.
(33) همدغه اثر، **۴۱** مخ.
(34) همدغه اثر، **۱۵۴** مخ.
(35) همدغه اثر، **۱۴۱** مخ.
(36) همدغه اثر، **۱۳۷** مخ.
(37) ساقي، فضل الرحیم، ناچاپه شاعري.